دا څاروي د وحشي ځناورو په څېر طبیعت لري، نو هغه څه چې تاسو یې د ماتولو توان نه لرئ، دا کار ورسره وکړئ

له رافع بن خدیج رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: مور د ذوالحلیفه په سیمه کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو چې خلک وږي شول، نو دوی اوښان او پسونه په غنیمت کې ونیول، وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم د خلکو تر شا وو، نو دوی په بیړه حلال کړل او دیګونه یې باندې کړل، رسول الله صلی الله علیه وسلم امر وکړ چې دیګونه واړول شي، بیا یې له سره وښش وکړ، نو لس پسونه یې د یو اوښ سره مساوي کړل، یو اوښ له دوی څخه وتښتېد، نو دوی ورپسې شول تر دې چې ستړي شول، دا په داسې حال کې چې دوی سره لږ شمېر آسونه وو، نو له دوی څخه یو سړي غشی وار کړ، تر دې چې الله تعالی پرې را ایسار کړ، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «دا څاروي د وحشي ځناورو په څېر طبیعت لري، نو هغه څه چې تاسو یې د ماتولو توان نه لرئ، دا کار ورسره وکړئ»، بیا رافع وویل: "سبا ویره شته چې د دښمن سره مخ شو، حال دا چې چاقوګان نه لرو ، نو آیا کولی شو په دورمو حلاله وکړو؟" هغه وفرمایل: "هر هغه څه وخورئ چې د حلالې په پایله کې یې وینه بهېدلې وي او د الله تعالی نوم پرې یاد شوی وي، پرته له غاښونو او نوکانو څخه چې زه به تاسو ته د هغې شیانو په اړه خبر درکړم: ځکه غاښونه هډوکی دی، او نوکان د حبشیانو د حلالې توکي دي".

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رافع بن خدیج رضي الله عنه وایي چې هغوی له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په ذو الحلیفه کې وو، نو خلک وږي شول، په داسې حال کې چې له مشرکانو څخه یې اوښان او پسونه په غنیمت نیولي وو، نو د غنیمت له وېش مخکې یې بیړه وکړه، څاروي یې حلال کړل او پرته له دې چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اجازه وغواړي دیګونه یې باندې کړل، دا په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ډلې په وروستۍ برخه کې راروان و، نو کله چې هغه صلی الله علیه وسلم خبر شو نو د دیګونو د چپه کولو امر یې وکړ، تر څو یې خوروا توی شي، بیا یې د هغوی تر منځ غنیمتونه ووېشل، نو د یو اوښ په مقابل کې یې لس پسونه وټاکل، پدې حال کې یو اوښ وتښتېد، نو دوی یې له رانیولو عاجز شول، ځکه لږ شمېر آسونه یې درلودل، نو یو سړي په نیزه وویشت، تر دې چې الله ورته اوښ مهار کړ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا کورني حیوانات لکه د وحشي ژوو په څېر طبیعت لري، نو هغه چې پر تاسو زورور شول او تاسو یې له رانیولو عاجز شوئ نو داسې کار ورسره وکړئ. رافع بن خدیج وویل: سبا ته له دښمن سره د مخ کېدو شونتیا شته، نو مور وېره لرو که په تورو حلالې وکړو پڅې به شي، حال دا چې حلالې ته سخته اړتیا ده، او مور چړې او چاقوګان نه لرو، نو آیا کولی شو د دورمې په تېرو لرګیو حلاله وکړو. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هر هغه شی چې په زیاته کچه وینه وبهوي، په څاروي د الله نوم یاد شي او پرته له غاښ او نوک په بل شي حلال شي چې په اړه به یې معلومات درکړم (نو هغه وخورئ) ځکه غاښ هډوکی دی، او نوک چې دی نو د حبشي کافران یې کاروي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/2984